# د سمندر خان سمندر
# د شاعرۍ موضوعاتو فکري او فني تجزیه

Thematic Analysis of Samandar Khan Samandar,s Poetry

هېمش خلیل*

**Abstract:**

Samandar Khan Samandar is one of the greates and highly versed poet of the 20th century. His creation of poetry and prose has made him distinguished especially with reference to the quantity of literature he produced. The school, Hamesh Khalil himself is one of the senior most and influential poet critique, writer and researcher. He has come up with interesting accounts of Samandar Khan Samandar's while presenting his account stemmed in personal observations. In this paper the scholar has strived to uncover various dimensions of his poetry also share the trajectory through which the tradition of Pashto writing is evolved.

په خپل دور په پښتو ادب کښې سمندر یو لوئ نوم دی چې د خپل ژوند په ډرامه کښې د یو انسان مختلف کردارونه لوبوي. مرحوم د خپلې معاشرې دځینو افسوسناکو واقعاتو او پېښو له مخه باوجود د خپل پلار په ژوند هم په قول د موصوف د یو یتیم نه علاوه د یو طالب علم، یو ماشوم مزدور، یو ادنٰی سر کاري ملازم، یو کوچوان، یو جادوګر، یو سیاسي کارکن، یو عاشق او اخر کښې د یو شاعر، ډرامه نګار، مکالمه نګار او صدا کارپه مختلفو کردارونو کښې څرګند ېږي.

د پښتو ادب دا اهم کردار د کال ۱۹۰۱ء د جنورۍ په وړومبۍ ورځ د خپل زېږون نه تر کال ۱۹۹۰ء جنورۍ تر اوولسمي(۱۷) ورځې د خپل ژوند په نوي (۹۰)کلونو کښې د ډېرو لوړو ژورو او نرمو ګرمو سره مخ شوی دی.

د مرحوم مشران چې د غلځي قبیلې دسلېمانخېلو سره تعلق لري هم د دغه قبیلې دعیسیٰ خېلو او اکا خېلو سره یو ځای له بره رابښکته شول. او د مردان د لُوند خوړ کلي سره یې کډې واچولې، بیاځۀ هم دلته پاتې شول.

---

*Hamish Khalil a prominent Pashto Writer, Researcher and a Critic, Peshawar.

او ځنې د روزګار په تلاش کښې نوښار ته راوکوچېدل او ورستو بيا هم د دغه ځای شول.

د ذکر شوو درېواړو قبيلو په شريکه يو مشر وۀ چې "بهادر شاه "نوميدو، دري واړو قبيلو په يوۀ خله دخپلې استوګنې دغه ځای د خپل مشر "بهادر شاه " په نامه " بهادرشاه کورونه " ياد کړو او بيا د وخت تېرېدلو سره سره " کورونه " په کلي، بدل شول. او کلی د " بهادرشاه کورونونه په " بدرېش" بدل شو او نن هم د غلځو دري ورونړو د اولاد دا "بانډه" په بدرشي " کلي ياد او اباد دي هم دا هغه کلی دی چرته چې سمندر خان سمندر سترګې پرانستې، لوئ شو، زوړ شو او خپل ژوند په اوږدو کښې دخاورو دا سمندر د ډېرو ازمائښتونو نه پس سترې ستومانه هم دلته خاورو ته وسپارلی شو. د مرحوم د پلار په ژوند د موصوف د يتيمۍ کردار د پښتني راويت يو ډېر دردناک داستان دی او د ژوند باقي کردارونه يې د معاش تر لاسه کولو مختلف شکلونه دي. د مرحوم د ژوند په اړي لري کښې د هغۀ د عاشقانه کردار رنګ ډېر لوړ او شوخ دی اوهم دغه د شاعر د مزاج هغه خاصيت دی چې وروستو بيا د هغه د شاعرۍ بنياد وګرځېدو.

سمندر خان يو بسيار نويس او تريو حده همه ګير شاعر دی، چې د انساني ژوند اکثر موضوعات يې دخپل قلم لاندې راويستلي دي. يعنې شاعر له خوا دحسن وعشق نغمې چېړلې دي نو بله خوا د اخلاقياتو درس هم ورکوي. قومي او اجتماعي سندرې هم وائي او فطرت عکاسي هم کوي. خو هر کله چې د جسم په کوزه کښې د فکرونو دا سمندر د يوې رڼا په حصول د خپلو بې قرارو موجونو د جوش او جذبې په انتها د مد او جذر شکل واخلي، نوبيا کوزه کوزه پاتې نشي د مد او جذر دغه کشمکش په دوران د خپلي هرې چپې په ژبه يو داسې ترنګ هم و چېړي، چې خپل ټول ماحول نغمه نغمه کړي.

سمندر يم چپې، چپې، چپې زبان لرم
په سر زبان د لاالـه خويو عيان بيان لرم

ما پــه خپــل کتــاب پښــتانهٔ لیکــوال اول ټــوک دویــم اشــاعت کښــي د سمندر مرحوم په حقله لیکلي وو چې:

"سمندر خان سمندر پیدائشي شاعر دی، او دا یو داسې حقیقت دی چې مونږ تري په اسانه انکار نشو کولی. د کوم شاعر د شاعرانو فن خوښه ناخوښه او معیار وغیره د هرچا خان ځانله دی. ولې سمندرخان چې د مقدار او معیار له مخه د ادب په حواله د پښتو ژبې او ادب کوم خدمت کړی دی هغه پخپله خپل مثال دی. یقیناً چې د مقدار له مخه د هغهٔ تله ډیر ه درنه ده. خو باوجود د خپل شاعرانه بیا هم غالباً چې د اکثر زړو موضوعاتو په خپلولو د اسلامي تعلیم دغه مبلغ او پښتو کښي د عروضي شاعرۍ علمبردار خپل لوستونکي خپل فن نه متوجه نه کړی شول".(1)

باوجود په ګڼو جدیدو مضوعاتو د طبع ازمائي په مجموعي ډول د سمندر خان سمندر په شاعرۍ اخلاقي او مذهبي رنګ ډیر غالب دی.

په دغه مقاله کښي مونږ د سمندر خان سمندر د شاعرۍ په غټوغټو موضوعاتو بحث کوو او ورسره ورسره د هغهٔ د شاعرۍ فني تجزیه به هم پېش کولی شي.

## حمد و نعت

سمندر خان سمندر یو راسخ العقیده مسلمان دی او د هغهٔ د شاعرۍ اکثر موضوعت مذهبي دي. دوست محمد خان کامل مومند د سمندر خان د شاعرۍ په حقله د هغه په کتاب "د قرآن ژړا" د یوې تبصرې په موقع لیکي:

"د سمندر خان کلام ډیره تنوع لري، او په ډیرو مضامینو حاوي دی، د عشق، مناظرِ قدرت، قومیت، او مذهب د دهٔ په کلام کښې جوت لیدلی شي، د اصنافو په لحاظ هم د سمندر خان کلام ډیرې برخې لري خو سمندر خان چې په فکر، قول او عمل یو مذهبي سړی دی، د کلام اهم ټوك د هغهٔ هغه مقصدي نظمونه دي چې د زوروري مذهبي جذبې لاندې لیکل شوي دي"(2). (میاشتنی، اسلم، پېښور، میٔ1951ء)

د الله تعالیٰ او رسول مقبول په ثنا او صفت کښې چې شاعر کوم اشعار وئیلي دي په حېث د مسلمان دا هغۀ عقېده او ایمان دی ځکه خو دا ټول کائنات فیصلې کاملې عقیدې له مخه شاعر د الله تعالیٰ د قدرتونو مظهرونو د نظام د هغۀ د حکم تابع، هر جاندار یې په ثنا مصروف د هر زنده سره رازق او ساتندویه او د عزت او زلت په ورکړه قادر ګڼي. حمد د جامعیت، حُسن بیان، د ژبې تمکنت، خوږوالي مقصدیت او معنٰی په وجه خپله مثال دی، چې شاعر پکښې د خالق د خالیقیت د صفتونو د همه ګیرۍ، بې نیازۍ وحدانیت، ابدیت او په کائنات د کامل قدرت او بیا په اخر کښې، یې دخپلې عقیدې لاالہ الاالله ذکر هم کړی دی.

څه عجیب قدرت لرې پروردګاره
چې تعریف دې دی بهر له حد او شماره
په نظر چې دا شجر او حجر وینم
خبر یې شکه پاڼه له اسراره
که دا مځکې د ي که پورته سموا توي
ستا په حکم سره دي تمام قراره
ته خالق یې هم رازق د هر مرزوق یې
اې جباره، اې ستاره، ا ې غفاره (3)

الله تعالیٰ په قرآن عظیم الشان کښې حضور ته فرمایي: "یٰسین، والقرآن الحکیم، انک لمن المرسلین. علیٰ صراط مستقیم.
یعنې یسین قسم دی په قران. چې د حکمت نه ډک دی (ای محمده) بې شکه تاسو پېغمبرانو کښې یې په نېغه لار ځینو عالمانو د یسین معنٰی د کامل انسان کړې ده نبوت خپله د انساني کمال انتها ده د حضورﷺ په رسالت کښې د ګواهي په ورکړی الله تعالیٰ په قران قسم کوي. چې ستاسو منشور رسالت او نبوت دی. چې د رسالت او نبوت عظمت یې ظاهر کړی دی. او هغه عظیم الشان انقلاب زیری یې ورکړی دی چې د صاحب قران حکیم په زریعه د انساني فلاح او ښېګړې د پاره په وجود کښې راغلو او هره ورځ په ترقۍ وه اوترابده د حضورﷺ د مبارک

ذات سره وابسته وه او دی. سمندر پخپله شاعری کښې ډېر نعتونه لیکلي دي. چې د رسولﷺ سره د شاعر د بې انتها مینې عکاسي کوي. د حضورﷺ په شان کښې دا نعت خاص حالت کښې في البدیه جوړ شوی دی. او مقصد یې زنده سری (جاندار) پخپله وائي.

"سرودونه د بلبل
په هزار ژبو سورئل
له کوزې ځنې قلقل
نعت خوان یمه زۀ ستا
دوی زما دی همنوا" (4)

سمندر خان سمندر د حمد او نعت نه علاوه مناجات او مناقب هم لیکلي دي چې دلته په ټولو باندې بحث کول ممکن نۀ دی البته د سمندر مرحوم د رسا په حقله د سید رسول رسا یوه حواله وړاندې کوم:

" د سمندر صاحب شاعري، څرنګه چې مخکښې تېر شوی دی. د ترک شیراز د خال او خط تربیانونو پورې محدوده نۀ ده، هغه په اصلي معنو کښې وړومبی پښتون شاعر دی. چا چې د زلف او خال دشاعری په اذر کده کښې یو براهیمي مذهب قائم کړو" (5). (دایلم سوکه وړومبی اشاعت اکتوبر ۱۹۳۸ء)

## قومي شاعري:

د پېرنګي خلاف د وطن د ازادۍ په جنګ کښې په حېث د یو ازادي خواه شاعر د سمندر خان کردار ډېر واضح دی. او دغه لړ کښې موصوف د ازادۍ د تحریک یو سرګرم رکن هم پاتې شوی دی. او د" انجمن اصلاح الافاغنه " او ورستو بیا د "د خدائی خدمت ګار تحریک" په مشاعرو کښې یې په قومي موضوعاتو او طرحو نظمونه وئیلي دي. دا ټول نظمونه د نمونه علاوه نور هم دسمندر خان سمندر ډېر ملي نظمونه.

هغو یاداشتونو چې شاعر پخپل قلمي کتاب " اوښکي سمندر" کښې ځای په ځای لیکلي دی. داسې معلومېږي چې وروستو بیا لکه خادم محمد اکبر (۱۸۷۹ء ۔ ۱۹۵۴ء) په څۀ وجه تحریک پرېښود بهر حال

د ازادۍ په جذبه سمندر خان سمندر د خپل ملک او ملت د خپلواکۍ د پاره د ازادۍ په جنګ کښې په یوه موقع د کامیابۍ یا ناکامۍ دواړلو حالتو کښې متوقع تکلیفاتو او مشکلاتو بې پروا د منزل د خوب د حقیقي تعبیر د انتظار د پاره بېقراره وۀ.

سمندر خان سمندر د خپلې حماسي (شجاعانه) شاعرۍ په ذریعه زلمو کښې د جوش او ولولو پېدا کولو په غرض خپل ټول صلاحیتونه پکارولي وو.

د سمندر خان قومي شاعري د حب الوطنۍ او حریت د جذباتو یوه داسې ائینه ده چې دهغۀ احساسات پکښې جوت لیدلي شي. اګرکه په مجوعي ډول اسلامي تحریک علمبرداره دی. ولې هم د اسلامي تعلیماتو په رڼا کښې موصوف د ملي شاعرانو په قافله کښې د ازادۍ د جرس په ډول لیدلی او ربدلی شي.

"د ازاد په لاس د پیر کنډول د خاورو
د غلام په لاس د سرو زرو جام یو دی
د ازاد کور په ځنګل او په بیدیا کښې
د غلام په مرغزار کښې مقام یو دی
په ازاد باندې شپه شپه او ورځ یې ورځ وي
د غلام باندې رڼا او ماښام یو دی
الغرض ازادۍ داسې رعب داب دی
چې سپین مخي مونږ له نن خاص و عام یو دی
سمندر د غلامۍ په اور کښې وسو
اوس په سوي یو ورځ او دوام یو دی

ص ۲۲۲ اوښکي سمندر

"پاسه د سرحد پښتونه د خپل غرور په شان
سروفروشي وکړه د یو سر فروش مسرور په شان
مال وسر قربان کړه ته په سینه د وطن کښې نن
ښکل کړه د پانسۍ پړی خندا کښې د منصور په شان
اور کښې د ظلمونو چې ځان سوزوې د خس غونډې

د غــه ځــان د خېــر پــه کــار کښــې کــړه چــوب د تنــور پــه شــان
قــاف پشــان لــوئی بــه دې پرمخکښــې د لــونيې شــي هــېڅ
ځــان کـــه پـــه جلـــوه د جانـــان وســـوزې د طـــور پـــه شـــان
ورغـــړه د خپـــل وطـــن پـــه خـــاوره کښـــې چـــې خونـــد کـــوي
ډېرو جـامې خـړې کـړې پـه عشق کښـې دمخمـور پـه شـان راشـه
کـــه رښـــتيا دې د شـــيرينې خـــال پـــه زړۀ وي خـــال
ســر پــه تېشــې غــوځ کــړه د يــو کــوه کــن مــزدور پــه شــان
هســـې اســـويلې دروغـــه مـــه پوکـــه لـــه خلـــې ځنـــې
زړۀ کښــې کــه دې عشــق د وطــن نــۀ وي حبيــب نــور* پــه شــان
دا چغـــې نـــارې ســـورې چـــې اورې لـــه ډېـــر درده دي
تـــن د ســمـــــندر تمـــام پـــولې د انګـــور پـــه شـــان

ص ۲۲۳ اوښکې سمندر

## اخلاقي شاعري:

دې کښـې شـک نشـته چـې سـمندرخان يـو جـامع اديـب دی او هـم د دغـه جامعيـت لـه مخـه د هغـۀ پـه اخلاقـي شـاعرۍ اړخ هـم جـامع دی. د انسـاني ژونـد سـره تړلـو اکثـرو اخلاقـي موضـوعاتو بانـدې لکـه د يـو اخلاقـي اسـتاد درس ورکـوي چـې د شـاعر د اخلاقـي اړخ يعنـي پـه صـحيح طريقـه د دولـت مصـرف، بردبـاري، بې ازاري، نيکـي همـت، پـت، سـعې، رشـتياوئيل، دچـا حـق نـۀ خـوړل، او راسـتې دا ټـول پـه اخلاقيـاتو کښـې شـمېرل کيـږي. د سمندر خان سمندر د اخلاقي شاعرۍ په اړه دا څو شعرونه ولولئ.

"پـه لـويئ د لويـو رشـک و ارمـان مـه کـړه
پخپـل غـولي کښـې هـر يـو سـړی تاجـدار دی

*۱۹۳۱ء کښـې مسـټر بـارنس دچارسـدې اسسـټنټ کمشـنر وه، چـې ډېـر ظـالم او وحشـي سـړه وه پـه ازادي خـوا هـو بـه يـې ديـر سـخت ظلمونـو کـول. يـو ه ورځ د دغـه ظلمونـو پـه دروران يـو ازادي خـواه حبيـب نـور چـې پـه ازادي خواهـو يـې دا ظلـم ګـولې خطـا لاړې. پـه حبيـب نـور دغـازي ايکـټ لاډي مقدمـه وچلـول شـوه. او د۴۷ ګنټـو کښـې د ننـه دننه پېښور جېـل کښـې د پانسـې پـه تختـه وخيژولـې شو. ورځپاڼه، بانګ حرم، پېښور ۱۹۵۸ء تريحر يونس قريشي.

د یــو بـــل خبـــري مـــه اوره ښـــې نـــۀ دي
چـــې فلانـــی ســـړی جـــولاوې یـــا چمیـــار دی
ســـــمندره! هلتــــــه دا پوښـــــتنه نشــــــته
چـــې پښـــتون دی کـــه ســـید ؑ دی کـــه مالیـــار دی

ص۱۶۵ اوښکي سمندر

د انســاني جــد وجهــد او خپــل ارفــع مقــام تــه دربــدلو پــه خیــال ســمندر خــان ســمند ر یــو ډېــر اهــم نظم"برتــګ"(عزم بلنــد) دعنــوان لاتــدې لیکلــی دی. چـې د شـاعر پـه شـهکار نظمونـو کښـې شـمېرلی شـي. دې نظـم کښـې شـاعر یـو باعملـه انسـان د خپـل ژونـد پـه جد وجهـد کښـې یـو بـې عملـه انسـان هـم د ژونــد د مقصــد ترلاســه کولــو پــه نیــت د خپــل ځــان ســره روان کــړی دی چــې د ژونــد د لارې د ټولــو تکلیفونــو او مشــقتونو تــه مخــامخ کېــږي. اخــر دواړه کســان پخپــل همــت د ژونــد د غرســوکې تــه ورســي. د شــاعر خیــال وۀ چــې دا باعملـه انسـان د غـرۀ لاڅـوکې پخپـل همـت خپـل منـزل (لامکـان) تـه ورسـوي. او هلتـه بـل بـې عملـه ملګـری یـې د غـرۀ پـه سـر پرېـږدي. ولـې وړانـدې داارزو د شـاعر پـوره نشـوه. او دغـه شـان دا نظـم. نیمګـری پـاتې شـو. د دې شـهکار مصــوت نظــم خــوبي دا ده چــې د منــزل پــه تــلاش د دواړو مســافرو رفتــار کښــې د صــوت ســره ســره لــه ځینــو مصــرعونه دوه دوه اوازونــه هــم خیــژي. یعنې یو د رفتار او بل ذکر شوي څیز دحرکت مثلاً لکه دغه شعر کښې.

څـه مـچ د عنکبـوت نـۀ یـم پـه ځـم بـه ځـم بـه ځـم بـه ځـم
زمـــا دپـــل تـــه خېـــژي غـــر زۀ ځـــم زۀ ځـــم زۀ ځـــم زۀ ځـــم

"دا نظـم سـمندر خـان سـمندر د انګرېـز شـاعر "سـودی" (southey)د " اب لـوډور" نظـم پـه مقابلـه کښـې لیکلـی دی. او اکبـر الـه ابـادي پـه اردو کښـې ترجمـه کـړی دی. "سـودی" د اوبـو د رفتـار مختلـف اوازونـه پـه ډېـر ښـۀ مترنم انـداز کښـې پـېش کـړی دی. پـه یـو وزن او یـو سـټائل د ګڼـو قـافیو یـو ځـای کـول بـذات خـود یـو ډېـر ګـران کـار دی. او بیـا پـه تېـره تېـره د اوبـو حرکـاتو او سـکناتو هغـه تصویر کښې چې اصلي منظر هم دسړي نه هېر کړي. یو ډېر لوئ کمال دی.

د "برتګ" نه علاوه د شاعر په سوتي او غنائي خوبیو رنګین یو بل شهکار نظم د "درون پښتون" په نامه هم شهرت لري. حقیقت دا دی چې د دواړه د پښتو ژبي هغه تول وسعتونه او صلاحتونو په ګوته کوي. کوم چې پښتو ژبې ته په ترقي یافته او شته منه ژبه کښې یو ښکاره مقام ورکوي.

او بیا د سمندرخان سمندر د طبعي رواني او جدت خیال هم قابل داد دي چې په څومره احتیاط یې قافیې راغونډې کړې. او د فطرت د صوتي او غنائي کیفیت مفهوم یې بیان کړو. "درون پښتون" کښې خو یقیناً رقص، سرود او نغمه سره داسې اغړلي دي. لکه یو پېدائشي رقاص په فطرت کښې چې د ګډا او نڅا (ناچ) فن اغړلی وي.

**عشقیه کلام**:

دا رنګه د ذکر شوو موضوعاتو عشق هم د سمندرخان سمندر د شاعرۍ یوه ډېره اهمه موضوع ده. اګر که د شاعر د مجازي عشق تفصیل د هغۀ د ژوند په هغه د عشق و محبت د ترجمانۍ نه علاوه د پښتو شعري ادب یوه مهمه برخه هم ده. ځکه نو د شاعر د عشقیه کلام ذکر هم دومره ضروري دی. لکه د هغۀ شاعرۍ د نورو اړخونو چې دي.

د سمندر خان سمندر د شاعرۍ د ذکر شوو اړخونو غوندې د هغۀ عشقیه شاعري هم په قدیمي انداز د شعري ادب هغه روایت دی. کوم چې زمونږ کلاسکي شاعرانو خپل کړی وۀ. اګرکه د سمندر خان شاعري په مقصدي لحاظ ډېره اوچته ده. ولې په مجموعي حېثیت د جدیدیت، صنائع او بدائع له مخه هغه څومره شتمنه نۀ ده. لکه چې د مقصدیت له مخه ده. مثلاً دا غزل

در بغه عشق کښې زمان ځان بندیوان نه وی — یا پېدامې په جهان نوم نشان نه وی
یا ملهم د سرو لبانو راکولی — یا خو رلی مې دا تیر د مژګان نه وی
یا مې شوق نه وی په زړۀ کښې پېدا شوی — چې دا شوله نو دربغه هجران نه وی
ورځې یو له بل بدترې دي راسمې — مر یخوا به وم که اه وسوزان نه وی
زۀ به ورشم کوځې له سر په لاس کښې — که زما په داسې کړو یې خفګان نه وی
دا لمده لمن به ما ورکړه یوړه — که ظالم له مې دا هرڅه عیان نه وی
هیڅ اثر مې نه دا اه دښا شته — ښه به وه چې مې په خلۀ کښې زبان نه وي

سمندره! پس له مرګه په چا یاد کړې
که دې دا ناري د عشق په نیران نه وې

ص ۱۷۸ اوښکي سمندر

عشق دې پرې اېستمه داسې په خوارو کښې　　حکیم راغلو خو حېران شو په دارو کښې
دصحت طمه مې قطعي شوه له ځانه　　چې مې ولیدلو ځان په وینو سرو کښې
دشاهین غوندې دې کښېستم په پنجو　　زۀ که زرک ومه ډېره په سردرو کښې
که دجذبه او دسولﷺ نوم مې په خله نه وې　　ومې نه لیدو اثر خپلو نارو کښې
اوس حیران یمه چې تدبیر یې وکړم　　دلبوۀ په غارمې شپه شوله مېرو کښې
نه جولۍ منې نه روي د خدای ظالمه　　استعمال درله نورڅه کړم په ځارو کښې
اماده رویه ! ستا په ټول مخلوق رڼا ده　　سمندر درپسې ګرځي په تیرو کښې

راشه واخله امتحان له سمندره :: که څۀ یې نه زده کړي منع بیا له عشقه
ص ۱۸۵ اوښکې سمندر

نور به څۀ وي خو به مړ شم ستا له عشقه　　قربان کړی سر پخوا دی ماله عشقه
داسبق د صدق ماچې حاصل کړی　　نور له کومې؟ خو دلبره دا له عشقه
دفرهاد په تېشۍ سر وهل هم عشق وۀ　　قېس هم لاړو داسې نیمه خوا له عشقه
سر او مال چې ستا په عشق کښې دواړه ستایم　　وایه !دواړه قربان کړي چا له عشقه
چې په یو نظر دې زړۀ راځنې یوړۀ　　زۀ خبر کړمه دلبره ! تا له عشقه

## منظر کشي:

په اخلاقي عشقي او انسان د انفرادي او اجتماعي ژوند، او ملک و ملت په موضوعاتو یو خوا که په حېثیت د یو شاعر سمندر خان سمندر د خپل ذهن له سمندره ډېرې مرغلرې رابرسېره کړې دي. نو بل خوا یې د فطرت د حسن و ښائست سندرې هم وئیلې دي. چې د خپلې سادګۍ فطرت نګارۍ او منظر کشۍ د زېبائش په زړۀ پورې او دلکشې نمونې دي. دغه ضمن کښې شاعر چې د مصور په حېثیت هم نظمونه وئیلي دي. هغو د شاعر د معیار اندازه په اسانه لګېدلی شي. خو دلته د مضمون د طوالت له مخه منصب صرف د شاعر د هغه معرکته الارار نظم چې " د ایلم سوکه " په نوم شهرت لري، ذکر ضرورت ګڼو " د ایلم سوکه" موصوف په کال ۱۹۳۲ ء کښې لیکلی او ړومبي ځل یې د اسلامیه کالج پېښور د "بزم السنه شرقیه" په مشاعره کښې اورولې وۀ چې وروستو بیا کال ۱۹۳۷ء کښې به وړومبي ځل او کال ۱۹۴۴ء کښې په دویم وار چاپ شو. دا نظم پښتو ادب کښې په فطرت نګارۍ یو داسې شهکار نظم دی چې د دنیا په ډېر وژبو کښې خپل ساري نۀ لري.

"د ایلم ځوکه" د "بونېر" د مشهور غر" ایلم" په غالباً د تصور په چرت کښې لیکلي شوی دی. خو د نظم په لوستلو قاري داسې محسوسوي لکه چې شاعر واقعتاً د " ایلم" په سوکه ناست دا نظم تکمیل کړی دی. او زما په خیال هم دا د شاعر د زور بیان او تخیل د قوت هغه کمال دی چې شاعر یې پخپله نېچرل شاعرۍ کښې هم لکه ایلم د سوکې اوچت مقام ورکړی دی. شاعر د غرۀ له سره د فطرت په دغه ساده ماحول کښې د هوا د موسیقۍ په اورېدلو د رباب او ستار له نغمو او د مختلفو قسمونو د ونو د څانګو د بارله امله جوړو هغه د کوم رقاص له ګډا بې نیازه کړی دی. د نمر نه کله کله چاپېره او تاو راتاو وریځو سره د محبوب په رخسار د خورو زلفو سره تشبیه ورکوي. چاپېره د ځینو نورو غرونو لکه "خضرا" او "ګیرا" کړو وړو سوکو سره د محبوب په معشوقانه انداز په لاز د تللو ما د ابشارونو سره د اب حیات، خو د رو ګلونو سره د معشوقو د ګډېو بزو رمو ته د خدای لښکر، چاپېره رنګ به رنګ بې شمېره الوتونکو ببوزو (Butterfly) او قسما قسم مارغونو سره د رنګونو د باران او دغرۀ نه لاندې په ویالو کښې د بهنده سپینو سپینو اوبو سره دسپینو زرو د تارونو د تشبیه په ورکړه د قاري فکرونه هم حسین او رنګین کړي، او قاري داسې محسوسوي لکه چې شاعر څۀ وائي، هغه یې په خپلو سترګو وینې. سمندر د ایلم په سوکه د فطرت د حسن په تماشه داسې محوه ښکاره، چې خپل ژوند ترې هېر دی خپل ځان ترې هېر دی. او داسې محسوسوي لکه چې ونې هم د خپلو پاڼو په ژبو د الله تعالی په ثنا او صفت مشغولې دي. مارغان یې هم پخپلو سندرو کښې ستائي او غرونه یې هم دخپلو ترږو په ژبو تعریف او توصیف کوي. شاعر خپل ځان په علیین کښې او نوره ټوله دنیا ورته له ځانه ښکته ښکاري. لکه چې ځان ورته د خان، ملک بادشاه او شهنشاه نه هم اوچت ښکاري. د نظم یو څو بندونو:

چنګ رباب دی که ستاردی په واړه وغور زوي اور ته
عېش عشرت دی دلته داسې څه حاجت مې نشته نور ته
دنسیم لولۍ ګډېږي چې نظر کړمه کوم لور ته
دلته داسې تماشې دی ضرور نشته ټنګ ټکور ته

په د ایلم په سوکه ناست یم
زۀ له ټول جهانه پورته

په لکه زلفې منږځ کړې په چې يارو غورزوي شاته
ځلېدلی څرګند کړي ګټې پورې کړي خندا ته
داسې تېره توره شپه ده نمر راختستی دی سما ته
لړې دوړې دي الوتې ترونو شا ته
سوکه ناست یم
زۀ له ټول جهانه پورته

د دنیا بالانشین یا که څوک دي بالا دست
یا خاوند د اس اوزین یا په زور او په مست
دې زما مخکښې زيرين زمانه کښې همه هيست
لکه ناست په عليين ټول عالم دی راته پست

د ایلم په سوکه ناست یم
زۀ له ټول جهانه پورته
سمندر یم چې چې، چې زبان لرم
په هر زبان دلا اله خو یو عیان بیان لرم

## عروضي شاعري:

سمندر خان په عروضي شاعری ډېر زور راوړی دی. دغه ضمن کښې یې په عروضو د "ژور سمندر" په نامه یو کتاب هم لیکلی دی. او بیا یې عروضو شاعری ته په پښتو کښې د رواج ورکولو په غرض خپل یو منظوم کتاب د " خوږه شپېلۍ" په نوم هم شائع کړی او دغه کتاب پخپله د سمندر خان کوشش دی. ولې دا خبره صحیح ځکه نۀ ده، چې د پښتو په کلاسیکي شاعرانو کښې د میاں شرف په نامه د سمندر خان ډېر پخوا د افغانستان د ګردي غوث" په نامه کلي یو شاعر تېر شوی دی. چې تر دغه وخته د تحقیق له مخه پښتو کښې د عروضي موزونې شاعری وړومبی شاعر ګڼلی شي. او لکه د سمندر خان د "خوږه شپېلۍ" میاں شرف هم په مختلفو بحرونو د موزونې شاعری یو کتاب "د پښتو عروض" په نامه لیکلی دی چې د "پښتوټولنې" کابل افغانستان له خوا په ۱۳۴۴ هـ کښې شائع شوی دی.

دمَفعُولُ، مَفَاعِیلُ، مَفَاعِیلُ، فَعُولُنُ، په وزن سمندر خان سمندر دیو غزل څو شعرونَه. میاں سید رَسول رسا صیب لیکي.

" د سمندر صاحب شاعري، څرنګه چې مخکښې تېر شوی دی. د ترک شیراز د خال او خط تربیانونو پورې محدوده نۀ ده، هغه په اصلي معنو کښې ورومبی پښتون شاعر دی. چا چې د زلف او خال د شاعرۍ په اذر کده کښې یو براهیمي مذهب قائم کړو. (دایلم سوکه ورومبی اشاعت اکتوبر ۱۹۳۸ء)

همېش خلیل وائی:

" سمندر صاحب په هره موضوع، هره زمکه او هر رنګه وېنا د خپل وخت په یو څو شاعر طبیعت حد درجه غور انګېز دی. او د هرقسم خیال چې ترڅو د دۀ په زړۀ او ذهن ښۀ خور نۀ شي، د نظم کالي نۀ ورپغاړه کوي. د طبیعت د دغه غور انګېزۍ رنګ د شاعر په نظمونو، غزلو، قطعاتو او رباعیاتو د خپلې شوخۍ په وجه د خاصې توجه باعث دی.

(د پښتنائۀ لیکوال اول ټوک" دویم اشاعت)

د پروفېسر صاحبزاده حمید الله رایه ده. چې "سمندرخان د پښتو ادب د اسمان هغه ځلنده ستوری دی. چې تل به یې ځلا او ښکلا په زیاتېږو وي. او د هر پښتنائۀ شاعر او لیکوال رهنمائي به کوي". (میاشتنی "پلوشه کراچی، مارچ ۱۹۹۳ء. شماره ۴۳)

**معمې:**

پخوا به معمه وئیل هم لکه د ابجدو په حساب د شعر له الفاظو د چا د مرګ یا پیدائش تاریخ را ایستل فن ګڼلی شو. اګر که اوس پښتو شاعرۍ کښې د معمو وئیلو دا فن متروک دی. ولې د پښتو په کلاسکي شاعرانو کښې علي خان مهمندزي، یونس خیبري، بېدل مهمندزي وغېره ډېرې معمې وئیلي دي. سمندرخان سمندر چې کومې معمې وئیلي دي. هغو کښې " دا څۀ دي؟ " د عنوان لاندې یو څو معمې دا دي.

(۱) په دربو اسونو سپور پخپله ځي لکه د پلي
چې زغلي د کافرو په میدان کښې مشک نولي
سقه یې ډېره ښۀ ده مګر مخ یې دحبشو
ناست دلته مګر حکم یې په ټول جهان کښې چلي". (ص ۳۵۹)

(2) په وینه مې لیدلي قصه نۀ کوم دخوب
نهنګ دی مګر خېټه نۀ لري، اوسي په اب

نـهٔ خـوري او نـهٔ څـهٔ ښبـي، خوکـه پـه ښبنـه چرتـه راشـي
پـه ښبنـو بـه درلـه وښبـي پـه څـهٔ وخـت کښـې ټـول دريـاب

(ډيوه ) ص ۳۵۹ اوښکي سمندر

(3) يـو اس مـې وليـدلو عجيبـه پـه دې دنيـا کښـې
شـپږ پښـې لـري، عـالم يـې اچـولی پـه سـودا کښـې
لادا ده عجيبـه پـه شـپږو پښـو کښـې دوه کپـۍ دي
لـه بلـې نـهٔ خبـر شـه چـې لکـۍ لـري پـه مـلا کښـې

(تله) ص ۳۶۰

ه ګملـد غونـدې دنيـا کښـې يـو ګمبدلـه زمکـې زېـږي
جامـه پـرې ور د پاسـه سـره اوسـپينه ده زېبيـږي
د خـو خلقـو خـوراک دی، چـې جامـه تـرې څـوک وُباسـي
و پسـتو نکـی دجـامو ورلـه پـه سـرو سـترګو ژړيـږي

ص ۳۶۰

د سـمندرخان سـمندر د شـاعرۍ پـه مختلفـو موضـوعاتو بحـث د سـتو او د هغـهٔ د فـن پـه حقلـه هـم مـونږ مختصـره تجزيـه پـېش کـړه، د پښـتو شـعر و ادب پـه تـاريخ کښـې دا بسـيار نـويس شـاعر چـې د شـعرونو شـمېر يـې د يـو نـيم لکـو شـا وخـوا تـه رسـي د خپـل شـعري دولـت لـه مخـه هـم کـه يـو خـوا غنـي دی. نـو بـل خـوا يـې د ځـانګړيتوب او انفراديـت شـمله هـم جګـه ده چـې د خپل تخلص په مناسبت د يو ادبي سمندر حقيقت ته هم ډېر نژدې دی.

***

# حوالې

(۱) خلیل، همېش پښتانهٔ لیکوال، او ل ټوک دویم اشاعت یونیورسټی بک ایجنسی پېښور، ۲۰۱۰ ء
(۲) کامل، دوست محمد خان، د قران ژړا، مشموله میاشتنی اسلم پېښور، مئ ۱۹۵۱ء
(۳) سمندر، سمندر خان، اوښکې سمندر، مخ ۱۵۸
(۴) ایضاً، مخ۴۹۸
(۵) رسا، سید رسول، د ایلم سوکه، وړومبی اشاعت اکتوبر ۱۹۳۷ء
(۶) سمندر، سمندر خان، اوښکې سمندر، قلمي نسخه ص ۲۲۲
(۷) ایضاً، مخ ۲
(۸) ایضاً، مخ ۳۵۹
(۹) حمیدالله، صاحبزاده، پروفېسر (د سمندر خان سمندر په شاعری تبصره) مشموله پلوشه، کراچی مارچ ۱۹۹۳ ء شماره نمبر ۳